مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخر ۲۰۲۶/۰۳/ ۳۰

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(څلورمه برخه)

**پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانی(۱)**

د هند له وېش وړاندې انګرېز استعمار په هند کې له هندي مسلمانانو، هندوانو او سېکانو څخه شاوخوا له ۴۰۰زرو، تر ۵۰۰ زرو پورې مزدور پوځ جوړ کړی ؤ چې ټول لوړپوړي قوماندانان او افسران یې انګرېزان وو.

د هند پوځ، د هند له وېش سره سم، د ۱۹۴۷ز. کال د اګست په ۱۴مه نېټه، د انګرېزانو لخوا، د ځمکې د کچې (مساحت) پر بنسټ ووېشل شو چې «نږدې ۶۴ سلنه هندي انګرېزی پوځ د هند او ۳۶ سلنه وسلهوال پوځ پاکستان ته ورکړل شو[1]، د دغه انګرېزي پوځ ډېری وسلې هند ته ورپاتې شوې او لږې وسلې پاکستان ته چې د پاکستان د دفاع لپاره یې بسنه نه کوله.[2]

په تېرو پاڼو کې یادونه شوې ده چې د پاکستان د پوځ اعلی سرقوماندانې (ستر درستیز) له ۱۹۴۷ز. کال څخه تر ۱۹۵۱ز. کال پورې د انګرېزانو په واک کې وه چې لومړی ستر درستیز یې جنرال (فرانک میسروي) ؤ او له هغه وروسته جنرال (ډګلاس ډیوېډ ګریسي) وو او نور په زرګونو انګرېزي افسران هم د هند او پاکستان په پوځ کې پاتې وو چې بیا په ۱۹۵۱ز. کال کې د انګرېزانو ستر درستیز، جنرال ډوګلاس ګریسي پر ځای، پښتون توکمه جنرال محمد ایوب خان د جنوری په میاشت کې وټاکل شو چې ادا د پاکستان لومړني خپلواک پاکستانی پوځي مشر ؤ.[3] خو **د پاکستان هوايي ځواک تر ۱۹۵۷ز. کال پورې د انګرېزانو په لاس کې ؤ** چې په همدې کال کې د پاکستان هوايي ځواک لومړنی قوماندان هوايي (ایر) مارشال (اصغر خان) وټاکل شو. د پاکستاني پوځ د هغه مهال لوړپوړي جنرالان او افسران چې له آره د انګرېزانو په لاس روزل شوي وو، فاسد او واکغوښتونکي کسان وو، دوی تل د خپلو ځاني ګټو لپاره هڅې کړې او خپلې شخصي ګټې یې د پاکستان له ګټو لومړی او لوړې بللې دي چې له امله یې د پاکستان ملکي حکومتونو د دوی له لاسه ښه ورځ نه ده لیدلې، **پاکستان هسې تش په نوم د اسلامي جمهوریت په نوم یادیږي چې په حقیقت کې نه اسلامي دی او نه هم جمهوري نظام لري.** د پاکستان له جوړېدو راپدېخوا نږدې، د ۸۰ کلونو په اوږدو کې چې باید ۱۵ تنو لومړیو وزیرانو خپلې پنځه کاله ټاکلې دندې پای ته رسولې وای، د پوځیانو لخوا د مخامخ او نامخامخ مداخلو او توروتو د لګولو له امله یو په بل پسې له دندو ګوښه شوي دي چې د ۱۵ تنو لومړیو وزیرانو پر ځای، ۲۴ تنه لومړي وزیران ټاکل شوي او ګوښه شوي دي چې له سرپرستو لومړیو وزیرانو سره یې شمېر له ۳۰ تنو هم زیاتیږي.

د پاکستان لومړیو وزیرانو چې یو یې هم خپله ټاکلې موده پای ته نه ده رسولې، د پوځیانو په غوروهنه، د پاکستان د ولسمشرانو، ستري محکمې او د پوځیانو لخوا په مخامخ توګه په بېلابېلو پلمو له دندو ګوښه شوي او په پرلهپسې توګه

---

[1]: اوسمهال د پاکستان پوځ په تشکیل کې، پلې، هوايي او سمندري ځواکونه او پوځي استخبارات (ISI) مهم بنسټونه جوړوي چې د پاکستان په سیاسي او دولتي چارو او ټاکنو کې لوی لاس لري.

[2]:https://www.dw.com/ps/how-do-india-and-pakistans-militaries-compare-as-tensions-rise-after-kashmir-attack/a-72408626

[3] https://tile.loc.gov/storage-services/master/frd/frdcstdy/pa/pakistancountrys00bloo_0/pakistancountrys00bloo_0.pdf



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

کودتاګانې پرې شوي دي چې د پاکستانيو جنرالانو د کودتاګانو او لومړيو وزيرانو د ګوښه کيدو په تړاو لنډ مالومات وړاندې کوو.

د پاکستان په لنډکي تاريخ کې پر پاکستان باندې **څلورو تنو هندي جنرالانو چې د انګريزانو په لاس روزل شوي وو، شاوخوا ۳۳ کاله پوځي حکومت (مارشالا) کړي ده،** دا څلورتنه جنرالان: پښتون توکمه جنرال، محمد ايوب خان (۱۹۶۹-۱۹۵۸ز)، قزلباش جنرال يحيى خان (۱۹۷۱-۱۹۶۹ز)، هندی پنجابی، ضياء الحق (۱۹۸۸-۱۹۷۷ز) او جنرال پرويز مشرف (۲۰۰۸-۱۹۹۹ز) چې په نوی ډيلي کې زيږيدلی او ځان په عربو پورې تړي خو په حقيقت کې د هندوانو د ټيټي پوړی (طبقې) په يوه مسلمانه شوي کورنی کې زيږيدلی.

## جنرال سپکندر ميرزا او لومړنې کودتا:



په پاکستان کې د دغو پوځي جنرالانو ۳۳ کاله پوځي واکمني د پاکستان د ۷۹ کلن تاريخ نږدې نيمايي برخه جوړوي چې په دې توګه د پاکستان نظام هيڅکله جمهوري نظام نه دی.

په پاکستان کې پر ملکي حکومت لومړنی کودتا د ۱۹۵۸ز. کال د اکتوبر په ۷مه نيټه، د پاکستان پر اووم لومړي وزير، ملک فيروز خان نون پر حکومت وشوه، دا کودتا د يو پوځي جنرال او د پاکستان ولسمشر سپکندر ميرزا[4] او جنرال ايوب خان په مرسته ترسره شوه، جنرال سپکندر ميرزا د فيروز خان نون ملکي حکومت او پارلمان پر وړاندې (مارشالا) اعلان کړه، هغه ځان ولسمشر او جنرال ايوب خان ته يې د پوځ اعلی سرقوماندانې (چيف مارشل لا ايډمنسټريټر) وسپارله.
دا په پاکستان کې لومړنی پوځي کودتا وه چې د سپکندر ميرزا لهخوا ترسره شوه او د راتلونکو کودتاګانو بنسټ يې کيښود.

سره له دې چې جنرال سپکندر ميرزا يو بنګالی ؤ خو هغه د انګريز استعمار پر مهال خپله پوځي دنده تر ډيره د کوزو پښتنو په سيمو کې ترسره کړي ده **چې په ۱۹۲۰ز. کال کې يې د وزيرستان په جګړو کې هم برخه اخيستي وه.**[5]

جنرال ميرزا د لومړي وزير لياقت علي خان لهخوا د پاکستان د دفاع وزير په توګه، په ۱۹۴۷ز. کال کې له هند سره د کشمير په لومړی جګړه کې د پوځ د هڅو څارنه کوله او **د کلات د خان له خوا د بلوچستان د ناکام بپلټون هڅه يې هم ليدلې وه.**[6]

په ۱۹۵۱ز. کال کې، لومړي وزير لياقت علي خان هغه د کشمير او افغانستان د چارو د اداري (DKA) د مشر په توګه وټاکه.
سپکندر ميرزا د پښتنو او بلوڅو په ډيرو سيمو کې د انګريزانو د يو پياوړي افسر په توګه د پښتنو او بلوڅ آزادیغوښتونکو پر وړاندې جګړې کړي دي، **هغه د بلوچستان، وزيرستان، ډيره اسماعيل خان، ټانک، بنو، نوښهره، هزاره، مردان، خيبر او نورو سيمو کې، له ۱۹۲۰ز. کال څخه تر ۱۹۴۵ز. کال پورې د پښتنو په سيمو کې ستر ظلمونه کړي دي** چې «شاوخوا د شلو – پنځهويشتو کلونو په اوږدو کې يې بنه روانه پښتنو هم زده کړي وه.»

---

[4]: جنرال سپکندر ميرزا، د مشهور او تاريخي غدار (مير جعفر) کړوسي دی، دغه تاريخي غدار د بنګال د نواب سراج الدوله د پوځ مشر ؤ چې په ۱۷۵۷ز. کال کې د پلاسي په نوم جګړه کې د انګريز استعمار (ختيځ هند کمپنۍ) سره د خيانت او دسيسي لاس ورکړ، مير جعفر، د جګړې په ډګر کې جګړه ونه کړه، هغه وو چې د جولای په ۲يمه نيټه د نواب لښکر د انګريزانو لهخوا ماتې وخوړه او مير جعفر په خپل لاس د سراج الدوله سر غوڅ کړ.

[5] https://en.wikipedia.org/wiki/Iskander_Mirza#cite_ref-Story_of_Pakistan-2003d_17-2
6:https://books.google.com/books?id=KiELa2EoA04C&q=Iskander+Mirza+balochistan+1948&pg=PA94


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**فخر افغان، خان عبدالغفار خان (پاچا خان)** د جنرال سېکندر میرزا په اړه لیکي:**«یو مسلمان مرستیال کمیشنر، ښاغلی سېکندر میرزا، د انګرېزانو پر وړاندې د خپلې دوديزې وفادارۍ په څرګندولو سره، له خپلو بادارانو هم مخکې ولاړ** او سید اکبر (چې یو خدایي خدمتګار ؤ) تر مرګه پورې وواهه. هغه تر دې هم وړاندې ولاړ او د خدايي خدمتګارانو په پنډغالي (کمپ) کې يې د خوړلو سابه (سبزي) مسمومه کړه. هغو کسانو چې دا سابه وخوړل، سخت ناروغه شول. زه غوره ګڼم چې د هغه نور جرمونه رسوا نه کړم، بلکې هغه د لوی خدای عدالت ته پرېږدم، هغه خدای چې موږ ټول به د قیامت په ورځ ورسره مخ کېږو.»[7]

جنرال اسپکندر میرزا نه یوازې د پښتنو او بلوڅانو په سیمو کې د انګرېز استعمار لپاره پښتنانه او بلوڅان وژلي، بلکې په بنګال کې يې خپل قوم، بنګالیان هم زورولي او ځپلي دي چې **«د ده ناوړه کړنو د ختیځ پاکستان (بنګله‌دېش) د خلکو په زړونو کې د پاکستان د حکومت پر وړاندې تلپاتې کرکه وکرله.»**[8]

سېکندر میرزا د ۱۹۵۶ز. کال د پاکستان د لومړي اساسي قانون له اعلان وروسته، د پاکستان د لومړي ولسمشر په توګه وټاکل شو. خو د هغه د ولسمشرۍ دوره له سیاسي ګډوډیو سره مل وه چې د ده د لاسوهنو له امله یوازې **د دوو کلونو په اوږدو کې څلور لومړي وزیران له دندو ګوښه کړل.**[9]

وړاندې يادونه وشوه چې جنرال سېکندر میرزا په ۱۹۵۸ز. کال کې د جنرال ایوب خان په مرسته کودتا وکړه خو د ولسمشر جنرال سېکندر میرزا او د جنرال ایوب خان  تر منځ د ملکي او پوځي واک د وېش پر سر اختلافات رامنځ ته شول. چې ولسمشر میرزا د جنرال ایوب خان د اغېز د کمولو په هڅه کې ؤ، **هغه وو چې د پوځي حکومت د رامنځ ته کېدو څخه، لس ورځې وروسته، جنرال ایوب خان، د ۱۹۵۸ز. کال د اکتوبر په ۲۷-۲۶ نېټه، نیمه شپه یو پوځي ټولی د ولسمشرۍ ماڼۍ ته واستاوه، سېکندر میرزا يې ونیوه او په الوتکه کې يې کېناوه، انګلستان ته يې تبعید کړ.**[10]

سېکندر میرزا د ۱۹۶۹ز. کال د نومبر په ۱۳مه نېټه د خپلې اوپایمي کلیزې په ورځ، د زړه د حملې له امله مړ شو، جنرال یحیی خان چې د پاکستان ولسمشر ؤ، په ختیځ پاکستان (بنګله‌دېش) کې د هغه د ښخولو اجازه ورنه کړه نو د ایران پاچا محمد رضا پهلوي خپله شخصي الوتکه لندن ته واستوله تر څو د میرزا جسد تهران ته ورسوي چې بیا يې په تهران کې رسمي جنازه ترسره شوه.[11]

## مارشال محمد ایوب خان[12]

ومو لوستل چې جنرال ایوب خان، د ۱۹۵۸ز. کال د اکتوبر په ۲۷-۲۶ نېټه، د پاکستان پر لومړني کودتاچي ولس‌مشر، جنرال سېکندر میرزا باندې دننه په کودتا کې بله کودتا وکړه او هغه يې انګلستان ته وشاړه او د هغه پر ځای يې خپل ځان د پاکستان پوځي ولسمشر اعلان کړ، یو کال وروسته يې په ۱۹۵۹ز. کې **د (هلال پاکستان) نښان (مډال) او د فیلډ**

---

[7] :AbdulGhafar Khan: Faith is a Battle, by: D.G Tendulkar,p 355 Gandhi Peace foundtion https://ia801302.us.archive.org/4/items/in.ernet.dli.2015.117062/2015.117062.Abdul-Ghaffar-Khan-Faith-Is-A-Battle.pdf

[8]:https://en.wikipedia.org/wiki/Iskander_Mirza#cite_ref-The_Story_of_Pakistan-2003_37-3

[9]:https://web.archive.org/web/20120221225038/http:/www.storyofpakistan.com/articletext.asp?artid=A062

[10]: *عقیل شاه، ارتش و دموکراسی: سیاست‌های نظامی در پاکستان  انتشارات دانشگاه هاروارد*

[11] :http://archives.dawn.com/weekly/books/archive/051225/books15.htm

[12]: فیلډ مارشال محمد ایوب خان د پښتنو له ترین قوم څخه ؤ. محمد ایوب خان د ۱۹۰۷ز. کال د مې په ۱۴مه نېټه د خیبرپښتونخوا، هری پور هزاره ته نږدې، د ریحانې په کلي کې د ترین په کورنۍ کې زیږیدلی ؤ. د هغه نیکونه د بلوچستان د پشین له ولسوالۍ سره تړاو درلود.

نوموړی د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د انګرېزانو د هندي پوځ ډګروال ؤ چې بیا وروسته جنرال شو، جنرال ایوب خان ته د انګرېزانو لخوا ډېر مډالونه ورکړل شوي دي. هغه د پاکستان په پوځ کې تر ټولو کم عمره او تر ټولو لوړو پوړيو (رتبو) ته رسېدلی پوځي افسر ؤ. هغه د ۱۹۷۴ز. کال د اپریل په ۱۹مه نېټه مړ شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په څیر و لولئ

**مارشال رتبه هم خپل ځان ته ورکړه** چې دا د پاکستان لومړنی فیلډ مارشال ؤ چې خپل ځان ته یې د فیلډ مارشالی رتبه او مډال ورکړ. په داسې حال کې چې پرته له پوځي کودتا یې کومه بله توره نه وه کړې چې د لوړ مډال او یا د مارشالی رتبې مستحق وګرځي.

هغه مهال چې په ۱۹۴۷ز. کال کې پاکستان جوړ شو، محمد علي جناح د وګړو او آبادی له مخې د کراچې ښار د پاکستان پلازمېنه وټاکله خو پوځي ولسمشر ایوب خان په ۱۹۶۰ز. کال د پاکستان پلازمېنه اسلام آباد ته یوړه چې د دغه ځای پخوانی نوم (پوټوهال) ؤ.

مارشال ایوب خان په ۱۹۶۲ز. کې عمومي ټاکنې وکړې او پوځي حکومت (مارشالا) پای ته ورسیده، ایوب خان په درغلیو سره د ولسمشری ټاکنې وګټلې چې د ده پر وړاندې، تر ټولو پیاوړې سیاله د محمد علي جناح کوچنی خور (مادر وطن) فاطمه جناح ولاړه وه.

په ۱۹۶۲ز. کال کې هغه مهال چې د هند او چین تر منځ په سرحدي شخړو کې هند له چین څخه ماتې وخوړه نو مارشال ایوب خان موکې ته په کتو، څو زره سرتیري د کشمیر د چریکي ځواکونو په نوم، هندي کشمیر ته ولیږل، تر څو په دې توګه د هند تر ولکې لاندې کشمیریان پاڅون ته وهڅوي  چې تر ۱۹۶۴ز. کال پورې د پاکستان پوځ د هند له پوځ سره په پټو نښتو کې ښکېل ؤ چې په پای کې د کشمیر پر سر، په ۱۹۶۵ز. کال کې له هند سره د (جبل الطارق) په نوم لوبه او مخامخ جګړه پیل شوه. (دا جګړه د پاکستان لخوا د جبل الطارق په نوم نومول شوې وه) **په دې جګړې کې د هند پوځ د پاکستان تر سیال کوټ او لاهور پورې ورسید او د لاهور ښار یې کلابند کړ.** په پای کې د پخواني شوروي اتحاد په منځګړیتوب د اوزبکستان د تاشکند په ښار کې د سولې تړون لاسیک شو او د هند پوځونه له لاهور څخه په شا شول، د پاکستان پوځ چې د کشمیر په سیمه کې یې لږ غوندې پرمختګ کړی ؤ، هم په شا شول.

د تاشکند تړون د ډېرو پاکستانیانو لخوا یو ناوړه او د ماتې تړون وبلل شو چې له امله یې په ۱۹۶۶ز. کال کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ذوالفقار علي بوټو له خپلې دندې استعفا وکړه او د ایوب خان پر وړاندې یې مخالف دریځ غوره کړ. ذوالفقار علي بوټو، د ایوب خان د بهرنیو چارو وزیر، باور درلود چې د تاشکند اعلامیه یوه **(سیاسي تسلیمي)** ده او د پوځي بریا پر ځای په ماتې بدله شوې ده.

دا په داسې حال کې وو چې د بهرنیو چارو وزیر بوټو له ولسمشر ایوب خان سره د نوموړې جګړې د پیل کیدو په هکله همنظره ؤ، بوټو ویلي وو چې «د پاکستان له خوا پر هندي کشمیر د برید په غبرګون کې به هند په (اخنور) کې د نړیوالې پولې له لارې پر پاکستان برید ونه کړي، ځکه چې کشمیر یوه لانجمنه سیمه ده.»[13] خو د بوټو دا نظریه سرچپه ثابته شوه.

د مارشال ایوب خان د پرځولو پر وړاندې ذوالفقارعلي بوټو ګرندي او اغېزناک خوځښتونه پیل کړل، بوټو په ۱۹۶۷ز. کال کې د پاکستان د خلکو ګوند (پیپیپي) جوړ کړ او په ټول هېواد کې یې سفرونه پیل کړل، د ولسمشر ایوب خان اقتصادي، مذهبي او ټولنیز سیاستونه یې سخت وغندل **چې نوموړی د خپلو کړنو له امله ونیول شو. ایوب خان د بوټو تر څنګ د پاکستان او ختیځ پاکستان د عوامي لیګ ګوند مشر، شیخ مجیب الرحمن هم بندي کړ چې د هغوی نیول کیدل په ټول هېواد کې غبرګونونه لاپسې پراخ کړل.**

---

[13]:https://web.archive.org/web/20160304063953/http:/archives.dailytimes.com.pk/editorial/09-Aug-2009/book-review-sartaj-aziz-on-excessive-leaders-by-khaled-ahmed

پوليسو په پاکستان کي د نظم د ساتلو وس نه درلود، په ځانګړي توګه په ختيځ پاکستان کي چي هلته بغاوتونه او اړ دوړ په سختی سره ځپل شوي وو.

ولسمشر ايوب خان کوښښ وکړ له خپلو مخالفينو سره جوړجاړی وکړي خو بريالی نه شو، د پاکستانيانو لاريونونه او نيوکي زياتي شوي او د هغه د استعفاء غوښتنه يې کوله، د همدغو ګډوډيو پر مهال په ۱۹۶۹ز. کال کي **مارشال ايوب خان د زړه له يوې فلجکوونکي ناروغی سره مخ شو چي له کبله يې اړ شو په ګرځنده چوکی (ويلچېر) کي وګرځول شي او د دفتري کارونو توان يې له لاسه ورکړ.**[14]

د ايوب خان لپاره څو ډوله پېښي د هغه د ګوښه کېدلو لامل شوي:
لومړی: د ولس‌مشری په ټاکنو کي يې پراخي درغلی او ځيني سياسي پټي وژني ترسره کړي.
دويم: دا چي په ۱۹۶۵ز. کال کي له هند سره د ده ناکامه جګړه او په تاشکند کي د سولي تړون.
درېيم: د ايوب خان ناروغي چي خپلي چاري يې نه شوی تر سره کولی، دا دري مهم عوامل وو چي «ولسمشر ايوب خان يې اړ کړ له خپلي دندي لاس واخلي او د ۱۹۶۹ز. کال د مارچ په ۲۵مه نېټه يې د پوځ ستر درستيز، جنرال يحيی خان ته د حکومت کنټرول وسپاره.»[15]



نېټه:۱۴۰۵/۱/۹ل. ل

**نور بيا**

[د ښاغلي محمد انور اڅړ نوري ليکني په دی لينک کي ولولی.]()

---

[14]: *اکبر، ام. کی، پاکستان از جناح تا شريف . انتشارات ميثال. صفحات ۴۷-۴۳* .
[15]:https://books.google.com/books?id=BcIniHQAHfUC&q=ayub+khan+1965+war&pg=PA37
*page:48*



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ